# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ څلورمه | د ۲۰۱۹ د نومبر ۲۵مه | ٤٦٨مه ګڼه


## هېواد


۴ مخ

### قزاقستان

دغه هېواد د ناخالص کورني تولید او سړي سرکلني عاید د پرله پسې ډېربښت له امله، د آسیا یو ګړندی پرمختلونکی هېواد بلل کیږي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ټول خلک پر لیک او لوست پوهیږي.



## په هلمند کې د کوکنارو د مخنیوي لپاره کروندګرو ته د پستو باغونه جوړېږي



د هلمند د کرنې ریاست چارواکو ویلي چې په دغه ولایت کې د کوکنارو کښت د مخنیوي په موخه د اوو ولسوالیو کروندګرو ته د پستو باغونه جوړېږي.

د هلمند د کرنې رییس زلمي الکو ویلي چې تېر کال یې د دغه ولایت پر ۳۱٤ جریبه ځمکه د پستو بڼونه جوړ کړي دي.

هغه زیاته کړې: «هلمند دښتې ډېرې لري او پستې هم په دښته ښه نتیجه ورکوي، نو تېر کال چې موږ کرلي وو، ښه نتیجه یې ورکړې ده، نو غواړو چې دې برخې ته پراختیا ورکړو».

د الکو په خبره، د کرنې ریاست پلان لري چې سږ کال د هلمند په ناوې، نادعلي، خانشین، دېشو، واشیر، ګرشک او ګرمسېر ولسوالیو کې ځینو کروندګرو ته د پستې پنځوس باغونه جوړ کړي.

په ورته وخت کې په هلمند کې د کروندګرو د اتحادیې مشر عبدالشکورخان اکا ویلي، د دغه ولایت کروندګر اوس چمتو شوي چې د کوکنارو پر ځای د پستو باغونه جوړ کړي.

# د امریکا او طالبانو پټ مذاکرات؛

## سید اکبر اغا: رواني خبرې د افغان سولې لپاره ګټورې دي



۳

د امریکا او طالبانو تازه خبرې او د بین الافغاني خبرو ګونګ برخلیک

۲ مخ

د هوا ککړتیا له جګړې زیاته قرباني له افغانانو اخلي

۲ مخ

شل هغه دندې چې شتمنوي مو

۳ مخ

## ځایي خلک: په فراه کې د هوایي برید له امله ۱۵ ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې

د فراه د پشت رود ولسوالۍ اوسېدونکو ویلي، د دې ولسوالۍ په ګجګین کلي کې په هوایي برید کې ۱۵ ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

له دغه برید وروسته، لسګونو اعتراض کوونکو تېره ورځ د اتو کسانو مړي د فراه ښار مرکز ته راوړي وو او په دغه ښار کې یې لاریون وکړ.

هغوی ویلي چې ورمه شپه د پشت رود ولسوالۍ په ګجګین کلي کې په هوایي برید کې اته ملکي وګړي وژل شوي او اووه نور ټپیان دي.

د ګجګین اوسېدونکي محمد نعیم چې له اعتراض کوونکو سره د فراه ښار ته راغلی و، پژواک ته ویلي چې دغه هوایي برید ورمه شپه هغه مهال شوی چې کلیوال د ماخوستن له لمانځه وروسته له جومات څخه راووتل.

د نوموړي په خبره، په دغه برید کې د کلي له اوسېدونکو وژل شوي اته کسان او ټپي شوي اووه نور ملکي وګړي دي.

هغه زیاته کړې، دوی ځکه وژل شوي کسان د فراه مرکز ته راوړي، چې حکومتي چارواکي په دې اړه ځواب ووایي او دغه پېښه وڅېړل شي.

خو د فراه د امنیې قوماندانۍ ویاند محب الله محب ویلي چې ورمه شپه په پشت رود ولسوالۍ کې په هوایي برید کې اته وسله وال طالبان وژل شوي دي.

بلخوا د طالبانو ویاند قاري محمد یوسف احمدي بیا ویلي چې په دغه برید کې د کم عمره ماشومانو او سپین ږیرو په ګډون، نهه ملکي وګړي وژل شوي او اته نور ټپیان دي.

## هېچا ته به د ټاکنیز بهیر د ګډوډولو اجازه ورنه کړو



۲ مخ

## سازمان جهانی مهاجرت: اخراج مهاجران افغان از ایران افزایش یافته‌است



سازمان جهانی مهاجرت می‌گوید که اخراج مهاجران افغان از ایران افزایش یافته‌است. حارث پردیس، سخن‌گوی سازمان جهانی مهاجرت می‌گوید که تنها در یک هفتهٔ گذشته، بیش از ۱۲ هزار مهاجر افغان از ایران به افغانستان برگشته‌اند و یاهم از آن کشور اخراج شده‌اند. این سازمان، علت بنیادی افزایش در شمار بازگشت کننده‌گان را از ایران، وضع تحریم‌های امریکا بر ایران می‌داند: «تا همین ماه نوامبر [ماه جاری میلادی] نزدیک به ۴۵۰ هزار از شهروندان افغانستان از ایران و پاکستان به افغانستان برگشته‌اند که بخش بزرگ آن از ایران بوده‌اند».

بربنیاد اطلاعات وزارت مهاجران و عودت کننده‌گان افغانستان، در جریان یازده ماهٔ گذشته، ۴۴۰ هزار مهاجر افغان از ایران، پاکستان، ترکیه و کشورهای دیگر به افغانستان برگشته‌اند. بربنیاد آمارهای این وزارت، ۲۲۰ هزار تن از ایران اخراج شده‌اند و ۱۷۰ هزار تن دیگر آنان داوطلبانه از آن کشور به افغانستان برگشته‌اند. عبدالباسط انصاری، سخن‌گوی این وزارت گفت: «زمانی‌که خلاف اصل و بدون هیچ‌گونه مدرک افغانستان را ترک می‌کنند و به کشورهای گوناگون از جمله ایران و پاکستان می‌روند، پس آنان را اخراج می‌کنند؛ زیرا از این‌که هیچ‌گونه مدرک قانونی در اختیار ندارند، هرگونه عملکرد آنان در تضاد با قوانین آن کشور دومی است». شمار برگشت کننده‌گان و یاهم اخراج شده‌گان از پاکستان در مقایسه به ایران به مراتب کمتر گزارش شده‌است. چنان‌چه بربنیاد آمارهای وزارت مهاجرین، از آغاز سال تاکنون تنها ۲۲ هزار شهروند مهاجر کشور از پاکستان به‌گونهٔ داوطلبانه برگشته و یاهم اخراج شده اند. در کنار این، ۲۷ هزار تن از ترکیه نیز به کشور برگشتانده شده‌اند.




دریـځ

## د امریکا او طالبانو تازه خبرې او د بین الافغاني خبرو ګونګ برخلیک

په قطر کې د طالبانو او امریکایانو تر منځ یو ځل بیا خبرې پیل شوې دي. که څه هم دا خبرې رسمي نه دي، خو د راتلونکو خبرو پر څرنګوالي، چوکاټونو او شرطونو خبرې کېږي. اټکل دی چې څه وخت وروسته دا خبرې په رسمي ډول هم پیل شي. دا خبرې له هغه وروسته پیلېږي چې د امریکایي پوهنتون دوه استادان د دریو طالبانو په بدل کې خوشې شول. په دې تړاو د زلمي خلیلزاد او طالبانو تر منځ په قطر کې رسمي هوکړه شوې وه. له دې بدلون وروسته دا دی امریکا ته پلمه په لاس ورغله او د طالبانو کار د حسن نیت په توګه اخلي. له همدې امله بیا خبرې پیلوي، خو د بین الافغاني خبرو برخلیک لا هم څرګند نه دی.

له ولسمشر غني سره د ټرمپ خبرو ته ارګ خوشاله دی، خو که له شخصي ګټو او د ځوکۍ له غم ور تېر شو، نو د دې خبرو له پیل سره پکار ده چې زموږ اندېښنو ته ځواب وویل شي. دا ښه ده چې د امریکا او طالبانو خبرې پیل شي او پایله ولري، خو دا پوښتنه باید ځواب شي چې د بین الافغاني خبرو او توافق برخلیک به څه وي؟ د طالبانو دریځ دا دی چې موږ له امریکا سره یوې هوکړې ته رسیږو او له هغه وروسته بین الافغاني خبرو پیلوو چې حکومت به هم پکې د یوه سیاسي اړخ په توګه برخه لري. دا چې دا مذاکرات به څومره دوام کوي؟ ګډونوال به یې کوم اړخونه وي؟ په څومره وخت کې به توافق کېږي؟ که توافق ونه شي او خنډونه وي، څه به کېږي؟ دا هغه پوښتنې دي چې پکار ده ځوابونه ورته پیدا شي.

له بده مرغه حکومتي چارواکي، په ځانګړي ډول ولسمشر د دې پر ځای چې د افغانانو دغو اصلي اندېښنو ته پام وکړي، لا هم د یوې داسې معاملې په هڅه کې دی چې د ده واک خوندي شي او یا هم په راتلونکي کې غوښنه ونډه ولري. د یوه مسوول حکومت او یو مسوول ولسمشر دنده ده چې د خلکو او د هېواد برخلیک ته پام وکړي. پکار ده چې یادو شوو اساسي اندېښنو او پوښتنو ته ځواب پیدا کړي. له بده مرغه اوس داسې نه ده او یادې شوې اندېښنې هم جدي او مهمې دي. که د بین الافغاني خبرو لپاره یو واضح تعریف پیدا نه شي، که ګډونوال یې مشخص او پرې توافق ونه شي، که د پایلې وروستۍ نېټه یې ونه ټاکل شي، که دا معلومه نه شي چې څوک دا خبرې له خنډ سره مخ کوي، نو څه به ورسره کېږي او څوک به یې کوي. نو ښایي د طالبانو او امریکا هوکړه وشي، خو د افغانستان جګړه ختمه نه شي. له همدې امله ولسمشر ته پکار ده چې نور د قدرت ساتلو له هڅو تېر شي او د سترو ګټو په اړه فکر او کار وکړي. سیاستوالو او سیاسي ګوندونو ته هم پکار ده چې دغو اندېښنو او پوښتنو ته سم او قانع کوونکي ځوابونه پیدا کړي. افغانان باید ډاډمن شي چې جګړه ختمېږي او موږ کومې بلې جګړې ته روان نه یو.

# د هوا ککړتیا له جګړې زیاته قرباني له افغانانو اخلي

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

د نړۍ د هوا حالاتو څېړنې ډلې» د راپور پر بنسټ، چې د عقرب میاشتې په ۲۲مه خپور شوی دی، پکې راغلي چې په افغانستان کې د هوا د ککړتیا د قربانیانو شمېر د جګړې له قربانیانو څخه زیات دی. د یاد راپور له مخې، په ۲۰۱۷ ز کال کې په افغانستان کې ۲٦ زره کسان د هوا ککړتیا له کبله مړه شوي دي. د یوناما د سیاسي استازولۍ د اداري د راپور په اساس، په همدې کال(۲۰۱۷ ز) کې د جګړو له کبله ۳۴۸۳ عام وګړي وژل شوي وو.

دا په داسې حال کې ده، چې د هوا له سړېدو سره هوا لا پسې ککړه کېږي او په ژمي کې ډېری کورنۍ په افغانستان کې د خپلو کورونو تودولو لپاره له لرګیو، سکرو او له نورو سوزېدونکو شیانو کار اخلي. په همدې حال کې د افغانستان د چاپېریال ساتنې ملي اداره هم د هوا د ککړتیا په تړاو اندېښنه لري. د یادې اداري چارواکي وایي، چې د کابل هوا د ککړتیا د کنټرول لپاره پلانونه نیول شوي، خو د دریو لسیزو جګړو له کبله ښاري بنسټونه، د اوبو رسولو سیسټم، برېښنا، حمل او نقل او شنې سیمې له منځه تللې دي. کابل په اټکلیز ډول له کابو شپږ میلیونه نفوس سره د نړۍ له ګڼې ګوڼې ډکو ښارونو څخه بلل کېږي. موږ په همدې تحلیل کې په نړۍ کې د هوا د ککړتیا وضعیت، په افغانستان او په تېره بیا په کابل کې د هوا ککړتیا وضعیت او د مخنیوي پر لارې چارو باندې شننه کړې ده.

**په نړۍ کې د هوا د ککړتیا وضعیت**

د روغتیا نړیوال سازمان د ۲۰۱۹ ز کال په فبرورۍ میاشت کې د نړۍ د اقلیمي وضعیت په اړه راپور خپور کړ، په دې راپور کې راغلي، چې د نړۍ د ټول نفوس له هرو لسو کسانو یې نهه نفره ککړه هوا تنفس کوي، چې دا وضعیت د دربیمې نړۍ په هېوادونو کې زیات دی، لکه افریقایي او آسیایي هېوادونو کې. د یاد راپور په اساس، هر کال په نړۍ کې ۷.۲ میلیون کسان د ککړې هوا د تنفس له امله پر مختلفو تنفسي ناروغیو اخته کېږي او په پایله کې مري، چې په افغانستان کې د مړینې یاده شمېره په ۲۰۱۷ ز کال کې د نړۍ د هوا حالاتو څېړنې ډلې د راپور په اساس، ۲٦ زرو کسانو پورې رسېدله. د راپور موندنو دا هم ښوولې چې په تېرو شپږو کلونو کې د هوا د ککړتیا کچه لوړه پاتې شوې او یوازې د امریکا او اروپا په ځینو برخو کې دغه کچه په کمېدو ده. د هوا د ککړتیا تر ټولو لوی لاملونه د ډېرو د سکرو په مټ چلېدونکې برېښنایي بټۍ، ډیزلي او پټرولي ترانسپورټي وسیلې او په کورونو کې کارېدونکې د سونټوکي جوړوي. دغه څېړنه وایي، د نړۍ تر ټولو ډېر نېستمن درې میلیارده وګړي د پخلي پاکې ټکنالوژۍ ته لاسرسی نه لري، خو وایي، په دې اړه یو څه پرمختګ شوی دی چې اشاره یې په هند کې ځینو پروژو ته ده، چې بې وزله کسانو ته د سون پاک تېل ورکول کېږي. د روغتیا د نړیوالې اداري د عامې روغتیا مشره ډاکټره ماریا نیرا وایي، د نړۍ په ډېرې برخو کې د هوا د ککړتیا کچه په خطرناک ډول اوچته ده او په نړیواله کچه د چاپېریال لپاره خطرناک ګواښ دی. اغلې نیرا له لویو ښارونو سر ټکوي او وایي، چې د هوا د ککړتیا کچه یې تر پنځو ځلو تر هغې لوړه ده، چې له روغتیایي پلوه خوندي بلل کېږي. نوموړې اسیا او افریقا ته ګوته نیسي او وایي، د هوا له ککړتیا سره د تړلو مړینو ۹۰ سلنه په دې دوو لویو وچو کې پېښېږي.

**کابل د نړۍ څلورم ککړ ښار دی**

د هوا پېژندنې نړیوالې اداري په ۲۰۱۸ ز کال کې کابل ښار په نړۍ کې د ککړې هوا له کبله لومړی ښار اعلان کړ، خو د سږ کال په درجه بندۍ کې نوی ډیلي، لاهور او کراچۍ ښارونه له کابل څخه مخکې شوي او کابل د نړۍ څلورم ککړ ښار بللی شوی. په دې اړه د ډبلیو ایچ په یوه راپور کې ویل شوي، چې د کابل ښار ۸۰ سلنه اوسېدونکي اوس هم داسې هوا تنفس کوي، چې کیفیت یې ټیټ دی. په راپور کې ویل شوي، د کابل ښار د هوا ککړوالی د سرو سرطان، سالنډۍ او ځینو نورو ناروغیو رامنځ ته کېدو خطر ډېر کړی او له امله یې هر کال زرګونه انسانان له وخته وړاندې مري. د دغه بنسټ د راپور په اساس، په تېرو پنځو کلونو کې په اوسط ډول د کابل د هوا د ککړتیا کچه اته سلنه لوړه شوې، چې له امله یې وضعیت لا پسې د اندېښنې وړ شوی دی. د چاپېریال ساتنې ملي اداره وایي، چې د کابل په هوا کې د معلقو ذراتو غلظت، کله په یوه متر مکعب کې تر ۵۰۰ مایکرو ګرامه پورې رسېږي، په داسې حال کې چې له ۱۵۰ مایکرو ګرامو پورته، ګواښوونکې بلل کېږي. دغه اداره زیاتوي چې د کابل څه باندې پنځوس سلنه واټونه کرښ شوي نه دي او دا ستونزه د کابل ښار د هوا د ککړتیا یو اصلي لامل بلل کیږي. همدارنګه د نفوس زیاتوالی، د ډېرو سکرو، پلاستیکو او لرګیو استعمال د پخلي او د کورونو د ګرمولو په موخه، ډېرې وخت د برېښنا نشتون چې له امله یې له جنراټورونو څخه ګټه اخیستل کېږي، د شنې ساحې نشتون او د موټرو زیاتوالی چې له امله یې د معلقو ذراتو په خوا کې د کاربن مونو اکساید، سلفر ډای اکساید، نایتروجن ډای اکساید، سرب او اوزون په هوا کې زیات شوي او په پایله کې د هوا د ککړېدو سبب شوي.

**د مخنیوي لارې چارې**

د هوا د ککړتیا د کنټرول په موخه دولت باید لاندې څو ټکو ته پام وکړي:

د هوا ککړتیا د مخنیوي تر ټولو اساسي حل دا دی چې د ککړتیا ټول اصلي لاملونه ختم کړل شي، د سکرو او ټیټ کیفیت تیلو پر ځای، پاکه (رینیوبل) انرژي، یانې لمریزه او بادي انرژي وکارېږي. په هره سیمه کې د کثافاتو او بېکاره شیانو لپاره د سوځولو په موخه ځایونه جوړ شي، په دې کار سره به په عامه ځایونو کې د سون مخه ونیول شي او له بلې‌خوا دا امکان هم شته چې په ډېرې اسانۍ سره له دې لارې برېښنا تولید کړای شي. د ښاري ترانسپورټ معیاري کول او په ښار کې د شنې ساحې زیاتولو ته توجه وشي. د نفوس پر تراکم کېدو باندې فکر وشي او په ټوله کې د یوې هر اړخیزې ستراتېژۍ جوړول او د تطبیق په موخه یې هڅې.

**پایله**

دا چې افغانستان سږ کال د هوا پېژندنې نړیوالې اداري په درجه بندۍ کې شاته تللی، دا د حکومت هڅې نه شي بلل کېدای، بلکې هغه ښارونه چې هغه اوس په دې درجه بندۍ کې له کابل مخکې قرار لري، د هغې د هوا د زیات خرابوالي لامل همدا محیط دی. د افغانستان د چاپېریال ساتنې ملي اداري سږ کال د تلې/ میزان میاشتې په ۱۴مه اعلان وکړ، چې په کابل کې د هوا د ککړتیا د مخنیوي په موخه یې د ۱۳ سکټورونو په همکارۍ پنځه کلن پلان جوړ کړی، چې په پلي کېدو سره به یې تر ډېره د هوا د ککړتیا مخه ونیول شي. چاپېریال ساتنه د یو هېواد دننه د مختلفو ادارو هر اړخیزو همکاریو ته اړتیا لري، له ټولو لومړی باید د چاپېریال ساتنې ملي اداره د دې پلان په تطبیق کې خپل رول ادا کړي او د چاپېریال د قانون د تطبیق په خاطر جدي اقدامات وکړي او د سرغړونې په صورت کې قضایي ارګانونه خپل اجراأت تر سره کړي. عامو وګړو ته پکار ده، چې له هغو کارونو ډډه وکړي، چې چاپېریال ته د ضرر سبب ګرځي. د بېلګې په توګه، په نویو ودانیو کې د خراب کیفیت تشنابونه، په عامه ځایونو کې د پلاستیکونو، ټایرونو او نورو چټلیو سوځول، په کورونو، هوټلونو او نانواییو کې د خشاکو په توګه د لرګیو یا د ډېرو سکارو سوځول او د زړو ماشینونو موټرونه کارول، ټول هغه څه دي چې د استعمال په کموالي یې کولای شو تر ډېره بریده شته ستونزې راکمې کړو.

## ټاکنو کمېسیون: که د رای شمېرنې د پروسې خنډونه لرې نه شي، وروستۍ پرېکړه به د کمېسیون بورډ ته وسپارو



د دغه کمېسیون کمېشنر عصمت الله مل

د ټاکنو خپلواک کمېسیون د دارالانشا رییس ویلي، که دوی ونه توانېږي چې په اوو ولایتونو کې رایې بیا وشمېري، نو وروستۍ پرېکړه او د پایلو د اعلان لپاره خپل عملیاتي راپور به د کمېسیون بورډ ته وسپاري.

دا په داسې حال کې ده چې د ځینو ټاکنیزو ټیمونو د پلویانو له خوا، په اوو ولایتونو کې د رایو د بیاشمېرنې او تفتیش د بهیر پر وړاندې مزاحمت، د ولسمشرۍ د ټاکنو د پایلو اعلان له نامعلوم برخلیک سره مخ کړی دی.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون د درالانشا رییس حبیب الرحمن ننګ ګواښ کړی، که چا تفتیش او بیاشمېرنې ته اجازه ورنه کړه، نو خپل عملیاتي راپور به د وروستۍ پرېکړې لپاره د کمېسیون بورډ ته وسپاري.

هغه زیاته کړې: «په هغو ولایتونو کې چې موږ ونه توانېږو بیا شمېرنه تر سره کړو، موږ ټول عملیاتي راپورونه کمېسیون ته سپارو او هر تصمیم چې د ټاکنو کمېسیون بورډ ونیو، مونږ هغه عملي کوو».

د ټاکنو خپلواک کمېسیون دغه راز ویلي چې په ۲۳ ولایتونو کې د رایو بیاشمېرنې معلومات مرکزي سرور ته انتقال شوي، د کابل، هلمند، ننګرهار او کندهار د رایو د بیاشمېرنې پروسه به هم نن بشپړه شي.

د دغه کمېسیون کمېشنر عصمت الله مل ویلي، چې په سرپل، بغلان، بدخشان، تخار، فاریاب، بغلان او پنجشیر ولایتونو کې د رایو بیاشمېرنې ته د اجازې ورکولو لپاره له ټاکنیزو ډلو سره پر خبرو بوخت دي.

هغه زیاته کړې: «موږ کوښښ کوو، له ټاکنیزو ډلو سره مو لیدلي، بیا هم ورسره ګورو، هیله لرو چې دا ستونزه حل شي، ډاډه یم چې حل کېږي به، که چېرې هواره نه شوه، بیا به د کمېسیون مشرتابه په دې اړه تصمیم ونیسي».

مل ویلي چې کمېسیون د هغو ۱۳۷٦۳۰ رایو په اړه چې ځینې ټاکنیزې ډلې اعتراض لري، وروستۍ پرېکړه کړې او که چېرې کومه ټاکنیزه ډله یې په اړه شک لري، نو د شکایتونو کمېسیون ته دې په دې اړه رسمي شکایت وسپاري، څو یې په اړه وروستۍ پرېکړه وشي.

## خالد: هېچا ته به د ټاکنیز بهیر د ګډوډولو اجازه ورنه کړو



د دفاع سرپرست وزیر اسدالله خالد ویلي، افغان امنیتي ځواکونه د ټاکنو په بهیر کې بې طرفه پاتې شوي او تر دې وروسته به هم د بې طرفۍ په نظر کې نیولو سره هېچا ته د دغه بهیر د ګډوډولو اجازه ورنه کړي.

نوموړي تېره ورځ د «سولې او امنیت» په اړه د افغان ښځینه پوځیانو په کنفرانس کې وویل، چې افغان امنیتي ځواکونو په ولسمشریزو ټاکنو کې خپله بې طرفي ثابته کړې ده.

هغه وویل، که څه هم په ټولنه کې اندېښنې شته چې د ټاکنو بهیر د کړکېچ خواته ولاړ شي، خو نوموړي ډاډ ورکړ چې د هېواد سیاسیون به خپلې پوهې سره هېواد د کړکېچ خواته ورلو هڅه نه کوي.

هغه زیاته کړې: «دا هم په وضاحت سره وایم، لکه څرنګه مو چې ثابته کړې وه، چې بې طرفه پاتې کېږو، همدارنګه هېڅ ډول تاوتریخوالي ته چې د افغانستان د خلکو ژوند له ستونزو سره مخ کړي، اجازه نه ورکوو».

خالد دغه څرګندونې تر هغه وروسته کوي، چې د ثبات او همپالنې ټاکنیز ټیم کاندید عبدالله عبدالله د تېرې لړم میاشتې په ۲٦مه وویل، افغان ځانګړو ځواکونو په کندوز ښار کې د دغه ټیم پر پلویانو ډزې کړې او د دغه ټیم یو څارونکی یې وژلی دی.

هغه په سیاسي مسایلو او ټاکنیز بهیر کې د افغان سرتېرو داخلول د اساسي قانون خلاف «ملي خیانت» وباله.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې مخکې د کورنیو چارو وزارت هم په ټاکنو کې د امنیتي سرتېرو د مداخلې په اړه د عبدالله عبدالله تورونه رد کړي وو.

دغه وزارت هم ویلي وو چې افغان ملي پولیس نه خپله ټاکنیز بهیر کې مداخله کوي او نه هم بل چا ته د مداخلې اجازه ورکوي.

تر هغه وروسته په کابل کې د امریکا سفیر جان بس هم ویلي، چې افغان ځواکونه د ټاکنو پر مهال او تر ټاکنو وروسته بې طرفه پاتې شوي دي.

دا په داسې حال کې ده، چې لا هم د څه کم دوو میاشتو په تېرېدو سره د ولسمشریزو ټاکنو پایلې د ځینو ستونزو له امله نه دي اعلان شوي.

# د امریکا او طالبانو پټ مذاکرات؛
## سید اکبر اغا: روانې خبرې د افغان سولې لپاره ګټورې دي



تر اوږده ځنډ وروسته په پلازمېنه دوحه کې د طالبانو او امریکا تر منځ په پټه او غیر رسمي توګه مذاکرات پیل شوي دي. ډېری سیاستوال او د سولې په برخه کې فعال کسان د دغه اقدام هرکلی کوي او وایي چې افغان جګړه یوازې د خبرو له لارې د حل وړ ده؛ ځکه د دې اړتیا ده چې د سولې په ټپه درېدلې خبرې بیا پیل شي. طالبانو ته نږدې سرچینې هم دا مني چې د طالبانو او امریکا تر منځ غیر رسمي خبرې روانې دي او د پرمختګونو تمه شته ده. خو افغان حکومت بیا ټینګار کوي چې د سولې لپاره باید تر هر څه وړاندې اوربند وشي.
د طالبانو او امریکا تر منځ تر یوې معاملې وروسته، د زندانیانو تبادله وشوه او دا تبادله د دې سبب شوه چې د افغان سولې په برخه کې نوي بدلونونه راشي. د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د زندانیانو تبادله بریالۍ وبلله او ټینګار یې وکړ چې دا مسئله به د افغانستان څلوېښت کلنه جګړه ختمه کړي. ده ویلي وو، هیله لري چې د افغانستان اوږده شخړه د خبرو له لارې حل شي. له دې څرګندونو یې څو ساعته وروسته په یوه مرکه کې هم د افغان جګړې د پای ته رسولو او خپلو سرتېرو د ایستلو خبره وکړه. بیا یې له ولسمشر غني سره تلیفوني خبرې وکړې او نوموړي ته یې د امریکا د سفر بلنه ورکړه.
تر دې بدلونونو وروسته، باوري سرچینو مسیر ورځپاڼې ته وویل چې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد د قطر پلازمېنې دوحې ته تللی دی او هلته یې په غیر رسمي توګه له طالبانو سره خبرې پیل کړې دي. تر دې وړاندې ټرمپ هم ویلي وو، چې په قطر کې له طالبانو سره د یوې نوې هوکړې پر جوړېدو کار روان دی. اوس تازه طالب سرچینو هم دا تایید کړې چې دوی له امریکا سره په پټه او غیر رسمي توګه خبرې پیل کړې دي او موخه یې هم دا ده چې د خبرو بیا پیل او تاوتریخوالو کمولو ته لارې چارې ومومي.
بلخوا طالبانو ته نږدې کسان دغه خبرې د افغانستان لپاره مهمې بولي. دوی هیله لري چې د امریکا او طالبانو تر منځ روانې خبرې وکړی شي دلته اوږده جګړه ختمه کړي او د بین الافغاني مذاکراتو لپاره زمینه برابره کړي. پخواني طالب چارواکي سید اکبر اغا ویلي، د طالبانو او امریکا تر منځ په قطر کې روانې پټې خبرې د افغانستان په خیر دي. هغه زیاته کړې: ((دغه خبرې دمګړۍ په پټه ادامه لري. خو زه فکر کوم دا خبرې د افغانستان په ګټه دي. زما معلومات دا ښیي چې دا د تېر په څېر رسمي مذاکرات نه دي)).
افغان حکومت او امریکا د دغو مذاکراتو د پیل یا څرنګوالي په اړه معلومات نه ورکوي، خو ارګ وایي، د سولې لپاره د دوی شرطونه پر خپل ځای دي. د ولسمشر ویاند صدیق صدیقي وایي چې طالبان باید اوربند وکړي، تاوتریخوالی دې راکم شي او بین الافغاني خبرو ته باید حاضر شي. صدیقي وایي: ((د سولې لپاره زموږ موخې او لومړیتوبونه واضح دي. تاوتریخوالی باید راکم شي چې د اوربند سبب شي او باید د طالبانو او افغان حکومت تر منځ مخامخ خبرې پیل شي)).
د سولې په برخه کې د نوو پرمختګونو تر څنګ، پخواني ولسمشر پر حکومت غږ کړی چې د سولې په برخه کې دې خنډونه نه جوړوي. نوموړي تېره ورځ له ازادۍ رادیو سره په خبرو کې ویلي دي، طالبان او امریکا دواړه سوله غواړي، نو حکومت ته پکار ده چې په دې برخه کې د اوربند یا نورو مواردو په نامه خنډونه جوړ نه کړي. کرزي ټینګار کړی چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ له طالبانو سره د سولې په اړه یوې نوې هوکړې ته رسېږي او دا سولې ته د رسېدو لپاره یو غوره اقدام دی.
د سولې عالي شورا هم د سولې په برخه کې وروستي پرمختګونه هیله بښونکي بولي. د دغې شورا مرستیال حاجي دین محمد وایي، چې دا ځل دې د اوربند په اړه هم خبرې وشي او په وینا یې څومره چې جګړه شدت پیدا کوي، دومره د سولې په لار کې خنډونه ډېرېږي.

## د بلخ ولایتي شورا: د مزار- جوزجان د ګازو سل کیلومتره نللیکه د مالیې وزارت له خوا لیلام شوې

د بلخ ولایتي شورا د مزار – جوزجان تر منځ د ګازو د غځېدلې څه باندې سل کیلومتره نللیکې د خرڅېدو د څرنګوالي او له پېرودونکې کمپنۍ سره د هوکړه لیک د جزیاتو په تړاو له مالیې وزارت څخه د وضاحت غوښتنه کړې ده.
د بلخ د ولایتي شورا غړي غلام سخي لاله ویلي چې د مزار – جوزجان تر منځ غځېدلې دغه نللیکه چې څخه باندې ۱۰۰ کیلومتره ده، د بلخ او جوزجان د سیمه ییزو ادارو او ولایتي شوراګانو له اطلاع پرته د مالیې او کانونو وزارتونو له خوا د اوسپنې د ویلې کولو پر یوې کورنۍ کمپنۍ د زړې اوسپنې په بیه پلورل شوې ده.
هغه دغه راز ویلي: «دا نللیکه چې ملي سرمایه ده، ټولو خلکو ته اړوندېږي، تخریب شوې نه ده، دوی لیلام کړې، حتا موږ (ولایتي شورا) هم په جریان کې نه یو اچول شوي، نه پوهېږو چې دا ولسمشر او یا که د مالیې وزارت خرڅه کړې ده، خو د پایپ لاین په اړه د بلخ او جوزجان خلک خبر نه دي».
دا په داسې حال کې ده چې د ګازو دا نللیکه په ۱۹۷۰ او ۱۹۸۰ ز کلونو کې پخواني شوروي ته د بې سلفرو ګاز د لېږد لپاره کارول کېده، چې په ۱۹۸۵ ز کال کې پخواني ولسمشر ډاکتر نجیب الله له افغانستانه شوروي ته له دې نللیکې د ګاز لېږد بند کړ.
له دې وروسته په ۱۹۹۰ ز کال کې د ملا محمد عمر د رژیم په وخت کې هم طالبانو د ګازو له دې نللیکې څخه له شبرغان ښاره بلخ ولایت ته د ګازو د لېږد لپاره کار واخیست.
په ۲۰۰۰ ز کال کې د طالبانو د رژیم له نړېدو وروسته، د لنډمهاله حکومت د رامنځ ته کېدو پر مهال له دغه پایپ لاین څخه ګټه اخیستنه په ټپه ودرېده او څه باندې ۱۹ کاله کېږي چې له یادې نللیکې هېڅ ډول ګټنه نه ده اخیستل شوې.
خو د کانونو وزارت چارواکو ویلي چې د بلخ – جوزجان تر منځ د ګازو غځېدلی پایپ لاین د کابینې د اقتصادي شورا د پرېکړې پر اساس، د مالیې وزارت له خوا د اوسپنې د ویلې کولو پر یوه خصوصي شرکت پلورل شوی دی.
د دغه وزارت ویاند عبدالقدیر مطفي ازادي راډیو ته ویلي: «دا پایپ لاین لیلام شو، فعلاً یوه خصوصي شرکت ته ورکړل شوی دی، چې د اوسپنې د تولید په برخه کې ترې کار اخلي، دا پخوانی پایپ لاین دی او د اقتصادي شورا د پرېکړې په مطابق خرڅ شوی دی».
د یادونې ده چې مالیې وزارت تر دې دمه د بلخ د ولایتي شورا د غړو د یادو ادعاوو په تړاو څه نه دي ویلي.

## اوچا: تر راتلونکي پسرلي پورې به ۳۷ سلنه افغانان په بېړنۍ توګه خوراکي توکو ته اړتیا ولري

د ملګرو ملتونو سازمان اټکل کړی چې په راتلونکو میاشتو کې به د هغو افغانانو شمېر لا زیات شي، چې په بیړني ډول خوراکي توکو ته اړتیا لري.
د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ اداري یا اوچا ویلي چې په افغانستان کې د هوا سړېدو، د جګړې د دوام او طبیعي افتونو د زیاتېدو له امله بشري مرستو ته د خلکو اړتیا د زیاتېدو په حال کې ده.
د ملګرو ملتونو د سازمان دا اداره په هغو هېوادونو کې چې بحرانونه روان دي، د بشري مرستو رسولو هڅې کوي.
اوچا ویلي چې په افغانستان کې په دریو میاشو (اګست، سپټمبر او اکټوبر) کې له دریو وګړو یو وګړی د خوراکي توکو له قحطۍ سره مخ و.
د دغه سازمان په خبره، سره له دې چې په افغانستان کې د تېر یوه کال په پرتله وضعیت یوڅه مثبت لور ته تللی، خو بیا هم لږ تر لږ ۱۲ اعشاریه شپږ میلیونه افغانان په بحران کې یا په داسې حالت کې چې په بېړني ډول خوراکي توکو ته اړتیا لري، ګڼل شوي دي.
خو د ملګرو ملتونو د دې ادارې په تازه رپوټ کې چې رسنیو ته استول شوی، ویل شوي چې له دې میاشتې (نومبر) تر راتلونکي پسرلي (مارچ) پورې به د هغو افغانانو شمېر ۱۳ اعشاریه نهو میلیونو ته لوړ شي، چې خوراکي توکو ته جدي اړتیا لري.
د دې اټکل پر اساس، تر راتلونکي پسرلي پورې به ۳۷ سلنه افغانان د خوراکي توکو مرستې ته اړمن وي.
ملګري ملتونه وایي چې له دې شمېرې به نږدې دری نیم میلیونه افغانان تر پسرلي په ایمرجنسي یا بېړني وضعیت کې وي.
د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ اداري دغه راز زیاته کړې چې په راتلونکي ۲۰۲۰ ز کال کې به وضعیت له ستونزو ډک وي، خو دوی هڅې کوي چې تر ټولو اړو خلکو ته بېړنۍ مرستې ورسوي.
اوچا زیاته کړې چې په ټول افغانستان کې امنیتي وضعیت سخت دی او له دې امله خلک د خوراکي توکو د قحطۍ له خطر سره مخ دي.
د یاد سازمان په خبره، په خلکو کې د لوږې او قحطۍ د زیاتېدو نور اساسي عوامل ډېرو خلکو ته د کار نشتوالی، طبیعي افتونه او د خوراکي توکو د نرخ لوړېدل دي.
یاده اداره په داسې حال کې په افغانستان کې د خوراکي موادو د قحطۍ خبره کوي، چې په افغانستان کې د ولسمشرۍ ټاکنو لومړنۍ پایلې لا نه دي معلومې، د وسله والو طالبانو او امریکا تر منځ د سولې خبرو د بیا پیل په اړه هم دقیق معلومات نشته او په ټول افغانستان کې د وسله والو نښتو له امله په دوامداره ډول خلک بې کوره کېږي.

## امریکا: د ایراني چارواکو د ټولنیزو رسنیو اکونټونه دې وتړل شي



د امریکا متحده ایالتونو د ټولنیزو رسنیو له سترو شرکتونو فېسبوک، انسټاګرام او ټویټر څخه غوښتي چې د ایران د حکومتي مشرانو اکونټونه بند کړي.
امریکا دغه غوښتنه د ایران د حکومت د هغه اقدام په غبرګون کې کړې، چې په دغه هېواد کې یې د اعتراضونو پر مهال انټرنېټ بند کړی دی.
د ایران لپاره د امریکا ځانګړي استازي براین هوک بلومبرګ نیوز شبکې ته په یوه مرکه کې، چې د بهرنیو چارو وزارت په رسمي ټویټرپاڼه کې خپره شوې، د ایران رژیم خورا دوه مخی بللی دی.
نوموړي همداراز ویلي، د ایران رژیم په داسې حال کې انټرنېټ قطع کوي چې په خپله له دغو ټولو ټولنیزو شبکو کار اخیستو ته دوام ورکوي.
نوموړي د ټولنیزو رسنیو له سترو شرکتونو فېسبوک، انسټاګرام او ټویټر څخه غوښتي چې د ایران د حکومتي مشرانو اکاونټونه تر هغو بند کړي چې په دغه هېواد کې انټرنېټ بېرته فعالېږي.
د ایران لپاره د امریکا ځانګړي استازي د ټولنیزو رسنیو له شرکتونو څخه د ایران د مذهبي مشر آیت‌الله علي خامنه‌یي، د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف او ولسمشر حسن روحاني د حسابونو د بندېدو غوښتنه کړې ده.
دا په داسې حال کې ده چې د ایران حکومت تېره اونۍ په ټول هېواد کې د اعتراضونو تر راپورته کېدو وروسته انټرنېټ بند کړی، خو ځینو څارونکو ډلو ویلي چې په تېرو دوو ورځو کې انټرنېټي اړیکې بېرته زیاتې شوې دي.
ایراني چارواکي ادعا کوي چې دا اعتراضونه راکم شوي، خو تر اوسه داسې څه نه دي خپاره شوي چې دا ادعا تایید کړي.
اعتراضونه وروسته له هغه راپورته او نورو ښارونو ته خپاره شول چې د ایران حکومت د نومبر په ۱۵مه د تېلو د بیې د لوړېدو اعلان وکړ.
له دې وروسته د ایران ستر مذهبي مشر ایت‌الله علي خامنه‌یي د دغو لاریونونو پر وړاندې په خپل لومړي غبرګون کې وویل چې د حکومت د پرېکړې ملاتړ کوي.
هغه له امنیتي چارواکو هم وغوښتل چې د امنیت د ټینګښت په برخه کې خپلې دندې عملي کړي.
ده په ایران کې د تېلو د بیې د لوړېدو په اعتراض کې د خلکو پر لاریونونو نیوکه وکړه.
په ورته وخت کې د ایران حکومت امریکا، سعودي عربستان او اسراییل تورن کړي چې په دغه هېواد کې د روان تاوتریخوالي تر شا لاس لري.
د ایران حکومت وایي، پنځه کسان په دې ترڅ کې وژل شوي، خو د بشري حقونو ډلې لکه د بښنې نړیوال سازمان د وژل شویو کسانو شمېر تر سلو ډېر یادوي.
د یادونې ده چې تر دې وړاندې هم امریکا د نومبر په ۲۲مه د ایران د مخابراتو پر وزیر محمد جواد آذري جوهري د دې لپاره بندیز ولګاوه، چې د دوی په خبره، د انټرنېټ په سانسورولو کې یې رول درلود.

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق


◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

دریمه برخه

افغانستان

### اتم څپرکی

### په لوی ننگرهار کې نوي او پخواني اسلام پال




خالص کوی شوای په مهارت سره خپل پښتونوالی له مذهبي اړخ سره وتړي. هغه د نورو اسلام پالو په څېر د خپلې پښتونولۍ ښوونه نه کوله. د هغه شعرونه هم مشهور دي، نوموړی د نېشنلېزم په نوم کتاب هم لیکلی چې نور دیني علماء د هغه دې کار ته په ښه سترگه نه گوري، ځکه نېشنلزم له عصریتوب او سېکولرېزم سره تړاو لري. خالص هېڅکله ډیورنډ کرښه په رسمیت ونه پېژنده، هغه به ویل چې د دې ډول اړینو پرېکړو واک له څو محدودو سیاسي مشـرانو سره نه بلکې له خلکو سره دی.

د هغه دا خاصیتونه له ورایه ښکارېدل، کله یې چې په ۱۹۸۹ز کال د امریکا له ولسمشـر رونالډ رېگن سره په سپینه ماڼۍ کې وکتل. رېگن مجاهدین د خپل منځي یووالي او په جگړه کې د بریاوو له کبله وستایل. خالص په څواب کې ترې د لوېدیځ د پراخ سیاسي ملاتړ غوښتنه کړې وه. هغه له رېگن غوښتي وو اسلام ومني. پخواني امریکایي دېپلومات پېټر ټامسن لیکي: ((خالص رېگن ته قرانکریم ورکړ، ترې ویې غوښتل اسلام ومني، څو له ده سره یو ځای په گډه جنت ته ننوځي، خو ولسمشـر په مودبانه توگه انکار وکړ.))

په ۱۹۸۹ز کال له افغانستان څخه د شوروي ځواکونو له وتلو سره خالص له ستونزو ډک نړیوال سیاست سره معاملې کولو ته اړ شو. هغه ښایي په مجاهدینو کې تر ټولو زیات دېوبند پلوه شیعه ضد څېره وه. هغه د ملگرو ملتونو د سولې له هغو خبرو سره هم مخالف و چې له مخې یې یو پراخ بنسټه حکومت جوړېدونکی و. نوموړي ټاکنې رد کړې او د مجاهدینو د حکومت د جوړېدو وړاندیز یې وکړ. هغه د مجاهدینو شورا ته لیکلي وو: ((لومړی، مجاهدینو خپل هېواد پر خپله وینه ازاد کړی. که له هغوی سره ښه چلند ونه شي، ستونزه هم نه اوارېږي. دوهم، اوسنۍ ستونزې ټولې د شوروي اتحاد راغلو ایډیولوژیو زېږولې دي، ځکه نو، حکومت باید داسې کسانو ته په لاس ورکړل شي چې د ورته ستونزو مخه ونیسي. دریېم، موږ باید فکر وکړو چې ملت ولې پاڅون وکړ. همدا احساس باید لا پیاوړی کړو او ملت ښه لور ته مدیریت کړو.))

خالص د مجاهدینو له مشـرانو څخه یوازینی کس و چې په ۱۹۹۲ز کال د ډاکټر نجیب د حکومت له چپه کېدو وروسته یې د مجاهدینو په کورنیو جگړو کې ونډه نه لرله، که څه هم د هغه ځینو قومندانانو په جگړه کې ونډه لرله، خو خالص د خپل منځي جگړو او د نړیوالې ټولنې د بې تفاوتۍ له کبله ډېر مایوسه شوی و. هغه په خواشینۍ سره وویل: ((موږ د یتیمانو په څېر یو، هر څوک مو د خپلو گټو لپاره کاروي.))

دغه مخکښ جهادي مشـر په پاکستان کې تر ژوند کولو تېر شو، په جلال‌اباد کې یې ساده ژوند غوره کړ. کله چې طالبانو په ۱۹۹۶ز کال جلال‌اباد ونیو، هغه کندهار ته لاړ، هلته یې د طالبانو له مشـرانو سره خبرې وکړې چې باید د افغانانو پر وړاندې ډېر نرم دریځ وکاروي، خو طالبانو پر هغه نیوکه کوله چې گڼي مخالف یې دی.

ښایي خالص یوازینی سیاسي مشـر و چې د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمو کې یې د هغوی مخالفت کاوه. ځینې طالب مشران د نوموړي په ډله کې د جهاد پر مهال قومندانان وو. د طالبانو په رهبرۍ کې هېڅ هم د خالص د علم او جهادي باور په اړه پوښتنه نه لرله. هغه د طالبانو له لوري د میوزیک او ټلویزیون د بندولو مخالفت وکړ، نوموړي یوه افغان خبریال ته ویلي وو: ((هغه حکومت چې یوه ټلویزیوني شبکه نشي پرانیستی، څنگه حکومت کېدای شي.)) د نورو جهادیانو سره په توپیر خالص د لویې جرگې ملاتړی و او غوښتل یې چې پخوانی شاه اعلیحضرت محمدظاهر بېرته راشي او د هېواد چارې په لاس کې واخلي.

خالص په ۱۹۹۰ز لسیزه کې هېڅ فعالیت نه کاوه، کله چې د ۲۰۰۱ز کال په پای کې د طالبانو حکومت ړنگ شو، هغه یو ځل بیا په خپل کور کې خاموش او غیرفعال پاتې شو. د ارسلا کورنۍ چې هغه یې پخوا ملاتړ کاوه، د حامد کرزي په مشـرۍ د نړیوال ملاتړ لرونکي حکومت حمایت وکړ. طالبانو په ۲۰۰۱ز کال عبدالحق وواژه. حاجي قدیر د انتقالي دورې مرستیال ولسمشـر شو او دین محمد د ننگرهار د والي په توگه وگمارل شو. خالص د ۲۰۰۳ز کال په اکتوبر کې هغه مهال چې د طالبانو ملاتړ یې وکړ، د خلکو له سترگو غیب شو. هغه ښایي پاکستان ته کډوال شوی و. په ننگرهار کې ډېری کسان په دې باور دي چې د نوموړي له رضایت پرته یې زامنو یو پټ ځای ته بېولی و. د زړه د ناروغۍ له کبله خالص له خپلې کورنۍ سره هم خبرې نشوای کوی، ځکه نو شونې نه وه چې د طالبانو په لیکو کې د کومې جگړه‌ییزې ډلې مشـري وکړي.

د ۲۰۰۶ز کال په جولای کې د خالص زوی انورالحق مجاهد د هغه د مړینې خبر ورکړ. افغان حکومت او طالبانو دواړو نوموړي ته اتل ووایه او د مړینې مراسم یې بېل بېل ونمانځل. د طالبانو د جگړې د زور اخیستو پر مهال، په ۲۰۰۷ز کال مجاهد توره بوړه د خپلې جگړې د لومړۍ کرښې په توگه اعلان کړه. د راپورنو له مخې مجاهد په پاکستان کې د ۲۰۰۹ز کال په مې کې ونیول او زنداني شو. د نیولو پر مهال هغه د طالبانو له لوري د تورې بوړې تش په نوم ولسوال و او ډله یې پر جگړه بوخته وه. د مجاهدینو له ډلې یوازې د خالص، حقاني، منصور او محمدي کورنیو د طالبانو ملاتړ وکړ.

**دوام لري...**

# قزاقستان

حشمت الله نوري



قزاقستان پـه منځنـۍ آسیا کـې د شـمالي عـرض البلدونـو د ۴۰ او ۵۵ درجو او د ختیځ طـول البلدونـو د ۴۸ او ۸۹ درجـو تـر منـځ موقعیـت لـري، چـې ټولټـال یـې پراخوالـی ۱۰۴۹۱۵۵ میـل مربـع تـه رسـېږي.

د قزاقسـتان شـمال تـه د روسـیې فدراتیـف، جنـوب تـه ترکمنسـتان، ازبکسـتان او قرغېزسـتان، لوېدیـځ تـه روسـیه او ختیـځ ته یـې چیـن موقعیـت لـري.

د پخـواني شـوروي اتحـاد پـه نویـو خپلواکـه شـوو جمهوریتونو کې قزاقسـتان تر ټولو غټ هېـواد دی، چـې لـه ختیـځ څخـه لوېدیـځ ته پـه منځنـۍ توگـه ۱۹۰۰ کیلومـتره اوږد او له شـمال څخه جنـوب ته په منځنـۍ توگه پلن دی. د دغـه هېـواد ۲۰ سـلنه ځمکه غرنۍ او ۳۳ سـلنه هواره ده.

د دغـه هېـواد پلازمېنه د آسـتانې ښـار دی او یـاد هېـواد ټولټـال ۱۸ میلیونـه نفـوس لري، چـې پـه هـر کیلومـتر مربـع سیمه کـې یـې اووه کسـان ژونـد کـوي.

د قزاقسـتان ٦۰ سـلنه وگـړي پـه ښـارونو او پاتـې ۴۰ سـلنه نـور یـې بیا پـه کلیـو او باندو کـې ژونـد کـوي. د دغـه هېـواد د قانـون لـه مخـې، هـره کورنـۍ پـه ټـول عمر کې یـوازې د دوو ماشـومانو د درلـودو حـق لـري.

قزاقسـتان د اداري وېـش لـه پلـوه پـر ۱۴ ولایتونـو او دریـو ښـارونو وېشـل شـوی دی. الماتا، اورالسـک، اوتگ توسـک، قره غاندي، کوسـتانای، کوک، چتـاو، زمبول، کالمیکوف او شـومکنت د دغـه هېـواد لوی ښـارونه دي.

د دغـه هېواد د حکومت ډول جمهوري دی.

د خپلواکـه قزاقسـتان لومړنی اسـاسي قانون د ۱۹۹۳ ز کال د جنـوري پـه ۲۸مـه نافذ شـو. پـه دغـه قانـون کـې د ۱۹۹۵ ز کال د اگسـت پـه ۳۰مه د یـوې ټولپوښـتنې په ترڅ کـې او د ۲۰۰۷ ز کال د مـې میاشـتې د ولسـي جرگې په پرېکړه کـې ځینې بدلونونه راغلـل. د دغـه هېـواد اوسـنی ولسـمشر نـور قاسـم جومـارت توقایـف دی. پـه قزاقسـتان کـې ولسـمشر د اوو کلونـو لپـاره د خلکـو پـه خوښـه ټـاکل کیږي.

پـه دغـه هېـواد کـې لومـړی وزیـر، د لومـړي وزیـر مرسـتیال او د کابینـې وزیـران د ولسـمشر لـه خوا ټـاکل کیـږي. د قزاقسـتان پارلمـان دوې جرگـې لـري، مشرانـو جرگـه چـې ۳۹ غـړي لـري، اووه یـې د ولسـمشر له خـوا ټاکل کیږي او پاتې ۳۲ کسـان د شـپږو کلونـو لپـاره د خلکـو پـه رایه لـه ۱۴ ولایتونو څخـه ۲۸ کسـان او لـه ښـار څخه یو اسـتازي ټـاکل کیـږي. دویمـه ولسـي جرگه چـې ۷۷ غـړي لـري او ټـول د پنځـو کلونـو لپـاره د خلکـو پـه خوښـه ۱۰ د گوندونـو له لېسـتونو څخـه ټـاکل کیـږي. د دغـه هېـواد حقوقـي نظـام پر مـدني قانـون ولاړ دی، د قزاقسـتان سـتره محکمـه ۴۴ او د قانـون جوړولـو جرگه اووه غـړي لـري.

د قزاقسـتان ولسـواک گونـد، کمونېسـت گونـد، د قزاقسـتان د خلکـو گونـد او ځینـې نـور د دغـه هېـواد مهـم او نفـوذ لرونکـي گوندونـه دي.

دغـه هېـواد د ۱۹۹۱ ز کال د مارچ په دویمه لـه شـوروي اتحـاد څخه خپلواکي واخیسـته او اوس هـر کال د اکتوبـر ۲۵مـه د خپلواکۍ د ورځـې پـه نوم پکې نمانځـل کېږي.

قزاقسـتان د مسـاحت لـه پلـوه د پخـواني شـوروي اتحـاد دویـم لـوی هېـواد دی. پـه ۱۹۹۱ ز کال کـې د شـوروي اتحـاد تـر ړنگېـدو وروسـته، د قزاقسـتان د صنعتـي عنعنـوي درنـدو ماشـین آلاتـو لپـاره د تقاضا یا غوښـتنې بېسـاري کمـوالي، د دغـه هېواد اقتصـاد لـه سـختو سـتونزو سره مـخ کـړ. د تنـزل او انحطـاط دغـې وضعـې تـر ۱۹۹۴ ز کال پـورې دوام وکـړ. تـر ۱۹۹۷ ز کال پورې د قزاقسـتان حکومـت د اقتصـادي ریفـورم او د اقتصـاد د خصوصـي کولـو پروگرامونـه گړنـدي کـړل، چې په پای کې ډېره شـتمني لـه دولتـي سـکټور خصوصـي سـکټور تـه ولېږدول شـوه. د ۱۹۹٦ ز کال پـه ډسـمبر کـې د کسـپین د نللیکـې کنسرسـیوم تـړون لاسـلیک شـو، چـې قزاقسـتان تـه د ډېـرو سـلاوي مهاجرینـو راتـگ د دغـه هېـواد لـه پرمختـگ سره مرسـته وکـړه. هغـه وو چـې ژر خپـل صنعتـي سـکټور بیا پـر پښـو ودروي او د کورنیـو اړتیـاوو د پـوره کولـو پـه څنـگ کې بهرتـه هـم صـادرات وکـړي. د قزاقسـتان اقتصـادي وده لـه ۱۰ په همـدې ترتیب جگه شـوه او پـه ۲۰۰۲ ز کال کـې نهـه سـلنه وه. د دې پرمختـگ عمـده لاملونه د تیلـو او گازو ایسـتل او چـاڼ وو.

پـه وچـه پورې تړلیتوب، د اقتصاد د بنسـټیزو جوړښـتونو محدودیت او د مـلي متخصصو کادرونـو کموالـی هغـه سـتونزې دي چـې د دغـه هېـواد اقتصـاد ورسره مـخ دی. همـدا اوس دغـه هېـواد د خپلـو مالونـو پـه تېره بیا تېلـو او گازو د صادرولـو لپـاره د گاونډیـو هېوادونـو مرسـتې تـه اړتیـا لـري. قزاقسـتان اوس لـړ تیـل د کسـپین پـه سـمندرگي کـې د خپـل بنـدر او اورگاډو لـه لارې بهـر تـه لیـږي، خـو غـواړي چـې پـه دې برخـه کـې ډېـره پانگونـه وکـړي. مخابراتـو پـه اوسـني قزاقسـتان کـې ښـه پرمختـگ کـړی دی، خو لاهـم ډېـرې پانگونې تـه اړ دي. د دغه هېواد اقتصـاد سره لـه ځینـو سـتونزو اوس اوس ښـه لـوري تـه روان دی.

برېښـنا، د نفتـي مـوادو، سکرو او نـورو ډېـرو کاني موادو ایسـتل، اوسـپنه، سرپ، جسـت، مـس، سره زر، سـپین زر، فاسـفیټ، د سـلفر ایسـتل، خوراکـي مـواد، کیمیـاوي مـواد، ټوکـران، ټراکټورونـه او کرنیـز ماشـینونه، برېښـنایي موټرونه، سـاختماني مواد، لرگین شـیان، سـیمنټ، بوټـان، راز راز کوچنـي ماشـینونه او داسـې نـور د دغـه هېـواد مهـم صنعتـي توکـي دي.

د قزاقسـتان نهـه سـلنه ځمکـه د کرلـو وړ ده او پاتـې نـوره یې څرځایونـو، ځنگلونو، غرونو، بیدیـاوو، سـیندونو، ښـارونو او د اسـتوگنې کلیوالـو سیمو نیولې ده. همـدا اوس د دغه هېـواد ۳۰ سـلنه خلـک د کرنـې پـه سـکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد شـپږ سـلنه ناخالـص کورنـي تولیدات له همدې سـکټور څخـه لاسـته راځـي.

لرگـي، غنـم، حبوبـات، پنبـه، غوښـه، گنـي، وریجـې، وربشـې، تنباکـو، میـوې، لبنیـات، هگـۍ، سـابه او واښـه د قزاقسـتان مهم کرنیز محصـولات بلـل کیږي.

روسـیه، ازبکسـتان، چیـن، المـان، ایټالیـا، کانـاډا، فرانسـه او ترکیـه د دغـه هېـواد لـوی تجـارتي شریـکان دي. دغـه هېـواد ۱۰۰ هوایـي ډگرونـه لـري چـې ۷۰ یې پـه پاخه او عـصري ډول رغـول شـوي دي.

د قزاقسـتان د ټیلیفـون کـود ۰۰۷ او د انټرنېـټ کـود یـې KZ دی، چـې ټولټـال یې شـپږ میلیونـه کسـان ورتـه لاسرسـی لـري. د قزاقسـتان نـږدې ټـول ټلویزیونونـه، راډیوگانـې او چاپـي رسـنۍ دولتـي دي او پـه دې وروسـتیو کـې خصوصـي سـکټور تـه هم حـق ورکـړل شـوی، چـې پـه دې برخـه کـې پانگونـه وکـړي.

دغـه هېـواد د ناخالص کورني تولید او سـړي سرکلنـي عاید د پرله پسـې ډېرښت لـه امله، د آسیا یـو گړنـدی پرمختلونکـی هېـواد بلـل کیـږي. پـه دغـه هېـواد کـې لـه ۱۵ کلونـو څخـه پورتـه ټـول خلـک پـر لیـک او لوسـت پوهیـږي.

قزاقسـتان د هغـو اقوامـو او قبایلـو اولاده بلل کیـږي، چـې له لومـړۍ میلادي پېـړۍ څخه را پدېخـوا د اوسـني قزاقسـتان په خـاوره کې مېشـت دي. دغـو قبایلو له شـپږمې میلادي پېـړۍ څخـه تـر اتمـې میـلادي پېـړۍ پورې کوچیـاني ژونـد درلـود. لـه لسـمې میـلادي پېـړۍ څخـه تـر ۱۲مـې هغـې پـورې د قزاقسـتان د جنـوب د سـیمرج پـر سـیمه بانـدې قـره خانیانـو حکومـت کاوه. وروسـته بیـا قـره خانیانـو د مغولـو په واسـطه لـه ماتـې سره مـخ شـول.

د ۱۸مـې پېـړۍ تـر وروسـتیو کلونـو پـورې ډېـرو قزاقانـو روسـانو تـه غـاړه کېښـوده، وړوکـی پـوځ یـې پـه ۱۷۳۱ ز کال، منځنـی پـوځ یـې پـه ۱۷۴۰ ز کال کـې او د لوی پوځ یـوې غټـې برخـې یـې پـه ۱۷۴۲ ز کال کـې د روسـانو واکمني ومنله. د روسـانو او قزاقانو اړیکـې چـې پـه ۱٦مـه میـلادي پېـړۍ کـې پیـل شـوې وې، د ۱۸مـې پېـړۍ پـه لومـړۍ نیمایـي کـې پـر قزاقانـو بانـدې د روسـانو د لاسـبرې لا املـه ډېـرې پیـاوړې شـوې. دې حالـت قزاقـان وپـارول او دوی د ۱۸مـې پېـړۍ پـه دویمـه نیمایـي کـې د روسـانو پـر ضـد ډېـرې هڅـې وکـړې، خـو څـه گټـه یـې ونـه کـړه. بیـا وروسـته میخاییـل گورباچـف د شـوروي اتحـاد پـه بدلونونو لاس پـورې کـړ. د قزاقسـتان د کمونېسـت گوند مـشر له دندې لـرې شـو او ځـای یـې روسـي الاصلـه واکمـن ونیـو. لـه دې ټاکنـې څخـه وروسـته خلکـو سـتر لاریونونـه وکـړل او غوښـتنه یـې درلوده چـې د قزاقسـتان د کمونېسـت گونـد مـشر بایـد قـزاق وي. کولبـي دا غوښـتنه منلـه، لـه دنـدې څخـه یـې اسـتعفا وکـړه او ځـای یـې نـور سـلطان نظربایـوف ونیـو. بایف پـه ۱۹۹۰ ز کال کـې د قزاقسـتان د ولسـمشر پـه توگـه وټاکل شـو. د همـدې کال پـه مارچ کـې قزاقسـتان خپلـه خپلواکـي اعـلان کـړه، د ۱۹۹۱ ز کال د ډسـمبر پـه ټاکنـو کـې نور سـلطان بیـا د دغـه هېـواد ولسـمشر شـو. پـه ۱۹۹۳ ز کال کـې د دغه هېواد نوی اسـاسي قانـون نافذ شـو او یـو کال وروسـته د ولسـي جرگـې ټاکنـې وشـوې.

هغـه وخـت چـې قزاقسـتان د شـوروي اتحاد یـو جمهوریـت و، افغانسـتان او قزاقسـتان سیاسـي اړیکـې نـه درلـودې او هـر څـه د مسـکو او کابـل تـر منـځ د افغانسـتان د دوو شـمالي ولایتونـو او الماتـا تـر منـځ د ورونـو ښـارونو پـه نامـه اقتصـادي او فرهنگـي اړیکې درلـودې.

کله چـې شـوروي اتحاد ړنگ شـو، افغانستان قزاقسـتان د یـوه خپلواکـه هېـواد پـه توگـه پـه رسـمیت وپېژانـده او پـه الماتـا کـې د افغانسـتان سـفارت پرانیسـتل شـو.

لـه افغانسـتان څخـه تـر قزاقسـتان پـورې د هـوا لـه لارې فاصلـه ۱۸٦۰ کیلومـترو او همدا راز د کابل او آسـتانې ښـارونو تر منـځ د وخـت توپیـر ۱:۳۰ سـاعته دی.

همیانی

# شل هغه دندې چې شتمنوي مو

ژباړه: حمیدالله حمیدي

ایا د دندې تر څنګ د یوه بل داسې کاروبار په لټه کې یاست چې شتمن مو کړي؟ که مو جېب تش وي، پر روغتیا یې حالت مو اغېز کوي؟ امریکایي څېړونکو په یوه څېړنه کې ثابته کړې ده چې د امریکا په ګوټ ګوټ کې د پیسو سټرېس د انسان پر روغتیایي حالت د پام وړ اغېز کوي. څېړنو دغه راز ثابته کړې ده چې شتمن کسان هم له یو ډول سټرېس سره مخ وي. په دې مانا چې له دې ستونزې سره یوازې بې پیسو خلک نه دي مخ.

په اوسني وضعیت او ډېرو لګښتونو کې د دوو یا درېو دندو درلودل یوه عادي خبره ده. د زده کړو لګښت پوره کول، د کور لګښت پوره کول، د راتلونکې په اړه فکر کول او ډېر نور لګښتونه د دې لامل کېږي، چې د دوو یا درېو دندو درلودلو خبره له حیرانۍ ووځي. اوس موږ له خپل چاپېریال سره اموخته شوي یو. هر ډول شرایط چې راځي، لا مو قوي کوي، څو تر خپلې وسې پورې مخ ته لاړ شو.

د پیسو ګټل زموږ لومړنۍ ورځنۍ موخه ده، څو خپلې اړتیاوې پرې پوره کړو. د پیسو ګټل هغه هنر دی، چې د هر چا د وس خبره هم نه ده. خو لارې چارې لري، یوازې دومره کار غواړي چې دغه لارې چارې زده کړل شي.

د شتمن کېدو لپاره اړتیا نشته چې تاسو باید له شتمنې کورنۍ څخه وئ؛ بلکې کفایت کوي چې یوازې د ګټلو لارې چارې یې زده کړئ. دلته مو له ځینو هغه لارو چارو سره بلدوو، چې په وسیله یې تاسو کولای شئ پیسې وګټئ.

**۱- د لاسي صنایعو لپاره وسایل جوړول**

د پیسو ګټلو او پیسو تر لاسه کولو لپاره لازمه نه ده چې تاسو یوه فابریکه ولرئ او یا هم لوی سوداګر وئ. د ساده شیانو اوبدل، د نانځکو جوړول او د ځینو شیانو طراحي کول ډېر ساده او اسانه، خو ګټور کار دی.

د دې کار لپاره اړتیا ده چې لومړی خپله لېوالتیا ثابته کړئ. وروسته د څېړنو، زده کړو او له خپلو وړتیاو څخه په ګټې اخیستو له دې درکه ښې پیسې ګټلی شئ.

**۲- دویم لاس توکي اخیستل**

د دویم لاس توکو اخیستل ډېر ښه کاروبار دی، خو په دې شرط چې که تېزې او ځیرکې سترګې ولرئ او کولای شئ په یو ځل کتلو د توکو بیه او ارزښت معلوم کړئ. ځینې وخت ان د دې اړتیا هم نه پېښېږي چې پر دې توکو باندې پیسې هم ورکړئ. خلک د دې لپاره چې له دې توکو ځان خلاص کړي، تاسو ته پیسې درکوي!

**۳- د معلوماتو پلورل**

نن سبا قدرت او وړتیا له هغه چا سره ده چې معلومات ولري. ډېری معلومات په ډېره لوړه بیه اخلي. دوی غواړي په دې سره مخکې لاړ شي.

**۴- ډیزاین زده کړئ**

د ګرافیک ډیزان زده کول مو په هر ځای کې په درد خوري. په یوازې ځان یې هم زده کول څه سخت نه دي او بل دا چې په بازار کې نن سبا د هر ډول پروګرام د زده کړې لپاره ویډیویي درسونه شته چې کار یې ښځي اسانه کړی دی. هر څه یوازې ستاسو په مینې پورې اړه لري، که غواړئ همدا اوس یې پیل کړئ. ان که اوس له دې کاره پیسې تر لاسه نه شئ کړای، خو ډاډه اوسئ چې په ورځنیو چارو کې در سره ډېره مرسته کولای شي. که ټولنیزو شبکو ته مو پام وي، ډېری برخه یې په انځورونو او ویډیوګانو نیولې ده. د شرکتونو د مارکېټینګ برخه هڅه کوي، څو خپل توکي او محصولات په ښکلي ډیزاین بازار ته وړاندې کړي، څو پېرودونکي جذب کړي. پوهېږئ! همدا د ډیزاینر کمال دی چې پېرودونکي په خپل جال کې راګیر کړي او د یوه داسې شي اخیستو ته یې وهڅوي چې هېڅ ورته اړتیا نه لري. د مارکېټینګ اصلي تعریف همدا دی چې خلک د داسې شیانو اخیستو ته قانع کړي، چې هېڅ اړتیا نه ورته لري، خو نن سبا ډیزاین د مارکېټینګ یوه اړینه برخه ګرځېدلې ده. ډېری کسان اوس له دې درکه په میلیونونو پیسې ګټي. په نوک باندې له طراحۍ او نقاشۍ نیولې ان تر خوړو پورې. که فکر کوئ، هنرمند یاستئ او دغه کار کولای شئ، نو همدا اوس ډېرې پیسې ستاسو په تمه دي.

**۵- ښوونه**

کېدای شي تاسو ډېرې داسې وړتیاوې او یا پوهه ولرئ، چې نور ورته اړتیا لري او ور زده یې کړئ. نن سبا ښوونه د میلیونونو افغانیو د ګټلو یوه لار ده.

**٦- خدمتونه**

دا چې اوس هر څوک انټرنېټ ته لاسرسی لري او ور سره ډېر بوخت هم دي، نو دوی غواړي هر څه له دې لارې تامین کړي. تاسو کولای شئ د خلکو د اړتیا وړ توکي په چټکۍ د دې کسانو تر کور او کارځایه د خپلو کار کوونکو په مټ ورسوئ او ښې پیسې تر لاسه کړئ. تاسو به لیدلي وي، چې نن سبا په نړۍ کې بې شمېره انلاین پلورنځي دي او د خپلو مشتریانو د اړتیا وړ توکي د هغوی تر کار او کارځایه پورې رسوي. تاسو هم کولای شئ د یوه ځانګړي سیستم له لارې په خپله شاوخوا کې د خلکو دغه ډول اړتیاوې پوره کړئ.

**۷- انلاین درس ورکول**

که تاسو داسې کومه وړتیا لرئ، چې کولای شئ نورو ته یې هم ور زده کړئ، نو انلاین کورس جوړ کړئ او دغه کار پیل کړئ. په دې برخه کې تر ټولو ښه کار دا دی چې وخت به مو تر کنټرول لاندې وي او کولای شئ پر ډېرو ساده وسایلو باندې درس ورکړئ او د پیسو په بدل کې خلک وروزئ.

**۸- انلاین لیکوالي**

د بلې رسمي دندې تر څنګ له وخت وروسته کولای شئ، له یوې بلې اداري یا خپرندویه ټولنې سره د انلاین لیکوال په توګه کار وکړئ. که څه هم د انلاین درس ورکولو په پرتله دغه کار یو څه پېچلی دی، خو ښېګڼه یې دا ده چې د پیسو تر څنګ مو خپله پوهه هم زیاتېږي.

**۹- په یوټیوب کې د ګټورو ویډیوګانو خپرول**

تاسو ته به معلومه وي چې په یوټیوب کې د ویډیوګانو خپرول او اړوند شرایط پوره کول تر ټولو ښه عواید لري. تاسو کولای شئ له معلومات ډکې ویډیوګانې، داسې څه چې خلک ترې یو شی زده کړي، پر یوټیوب خپرې کړئ او له دې درکه پرته له کوم لګښت د یوه ځانګړي سیستم له لارې پیسې وګټئ.

**۱۰- مشاور شئ**

که په کومه ځانګړې برخه کې تخصص او معلومات لرئ، نو کولای شئ له دې درکه ښې پیسې پیدا کړئ. نن سبا خلک په بېلابېلو برخو کې لکه د ښه ژوند، دندې پیدا کولو او کاروبار پیلولو په برخه کې مشورې ته اړتیا لري، نو تاسو کولای شئ د خپل مسلک اړوند هغو کسانو ته چې په دې برخه کې نوی ګام ږدي، د مناسبو پیسو په بدل کې مشوره ورکړئ.

**۱۱- انلاین ټایپ کول**

ایا له خپل ټایپینګ راضي یاست؟ نو پرېږدئ، هغه کسان چې د خپلو پروژو د پر مخ بېولو لپاره داسې یوه کس ته اړتیا لري تاسو وپېژني. دغه کارونه معمولاً د پای ته رسولو معلوم وخت لري. نو له دې درکه ځان ډاډه کړئ چې کار یې په خپل وختت پای ته ورسوئ.

**۱۲- د شپې له خوا کار کول**

که مو د شپې له خوا له کار کولو سره جوړه وي، نو ښه ده چې له وخت وروسته د ماښام له شپږو بجو وروسته د ځان لپاره بله دنده پیدا کړئ. د بېلګې په توګه، په یوه رستورانټ کې دنده واخلئ.

**۱۳- د کېک او کولچو پلورل**

که د کولچو او کېک پخولو داش لرئ، نو ښه ده چې له وخت وروسته دغه کار پیل کړئ. تاسو کولای شئ د خپلو ګاونډیانو د سهار چای لپاره تازه او ګرم کېک او کولچې پاخه کړئ او پر دوی باندې یې وپلورئ.

**۱۴- موټروانې وکړئ**

کولای شئ له هغو شرکتونو سره کار وکړئ، چې د خپلو مشتریانو لپاره په انلاین بڼه ترانسپورټي خدامات وړاندې کوي. که تاسو د ورځې بله دنده لرئ، کولای شئ له وخت وروسته له دې شرکتونو سره د څو ساعتونو لپاره کار وکړئ او پیسې وګټئ.

**۱۵- لیکنې او ژباړې وکړئ**

لیکنې او ژباړې کول د پیسو د لاسته راوړلو لپاره تر ټولو ښه لاره ده. زرګونه لیکوالان او ژباړونکي د ورځې د سفر، اشپزۍ، د ماشوم روزلو، هنر، د ژوند لارو چارو او نورو په اړه لیکنې او ژباړې کوي. دا هم ډېر سخت کار نه دی. تاسو په هر ځای او هر وخت کې دغه کار کولای شئ. له خدمت او شهرت سره سره به مو یو څه پیسې هم ګټلې وي. که د ژباړې په برخه کې پوره وړتیا لرئ، د هېواد له مشهورو کتابتونونو او خپرندویه ټولنو سره په اړیکه کې شئ، د خپل کار نمونې مو ورته وښایاست او د ژباړې یا ایډېټ لپاره ترې کتابونه او نور معلومات واخلئ. دغه راز د ژباړې ځینې رسمي مرکزونه هم شته چې په دې برخه کې کار کوونکو ته اړتیا لري. سر ور ښکاره کړئ او په دې برخه کې د خپلې وړتیا ورته وواياست او خپلې کاري نمونې ور ښکاره کړئ. دا کار دوې ښېګڼې لري: یو دا چې له مالي اړخه به پر ځان بسیا شئ او بل دا چې په اړونده برخه کې به مو وړتیا او تجربه زیاته شي.

**۱٦- د ټولنیزو شبکو مدیریت پر غاړه واخلئ**

په ډېر احتمال سره اوس به هم په کور کې ډېر وخت په ټولنیزو شبکو کې تېروئ، نو چې هلته یاست ولې بیا له دې تخصص څخه ګټه نه پورته کوئ او پسې نه ګټئ؟ ډېری شرکتونه غواړي په ټولنیزو شبکو کې پراخ حضور ولري او د دغه کار لپاره خلکو ته اړتیا لري. د دغه کار لپاره ښه خبره دا ده چې له ځینو پلټفارمونو لکه (هوت سوت) څخه کار واخلئ. دا پلټفارم اجازه درکوي چې پر یوه وخت څو اکونټونه مدیریت کړئ او د پوسټونو خپرېدو لپاره مهالوېش پکې جوړ کړئ. زما یو ملګری د خپل شخصي کار او د ماسټرۍ د درسونو تر څنګ، د شپې له خوا څو ساعته د ښکلا او جلدي برخې د یوه کلینیک ټولنیزې پاڼې منبج کوي. نوي پوسټونه کوي او د مشتریانو کومنټونو او مسېجونو ته ځوابونه وایي. دی له دې لارې هم د خپلې ماسټرۍ فیس برابروي او هم له خپلې کورنۍ سره په مالي برخه کې مرسته کوي. تاسو هم خپلې وړتیا ته په کتو سره له رسمي کار وروسته داسې یوه دنده پیدا کړئ، چې له خپل کور څخه ورته رسیده ګي وکولای شئ.

**۱۷- دیوه کار جواز واخلئ**

که کومه ځانګړې نظریه لرئ، خو په یوازې ځان یې نه شئ عملي کولای، نو له داسې چا مرسته وغواړئ چې پیسې لري. کولای شئ په ښار کې یو چکر ووهئ او ټول رسټورانټونه تر سترګو تېر کړئ. ترکي او عربي رسټورانټونه دومره لګښت نه غواړي. کولای شئ له دې درکه ښې پیسې وګټئ.

**۱۸- خپله یو محصول بازار ته وړاندې کړئ**

د ځینو کسانو پانګه چې له اړتیا ډېره شي، بیا پر دې فکر کوي چې د ځان لپاره خپل کاروبار پیل کړي. هغه د چا خبره غواړي رییس شي. دا ډېر ښه کار دی، په دې سره کولای شئ هم د ځان لپاره ګټه ورسوئ او هم ډېر نور کسان در سره په کار کړئ. دا سمه ده چې کاروبار ګټه او تاوان دواړه له ځان سره لري، خو هڅه وکړئ د مالي پوهې له مخې مسلکي مخ ته لاړ شئ.

**۱۹- د غذایي موادو پلور ډېره ګټه کوي**

دا چې غذایي مواد د ټولو انسانانو اړتیا ده او په هر ډول شرایطو کې د انسان د ژوندي پاتې کېدو لپاره ضروري دي، نو کولای شئ تاسو د غذایي موادو کاروبار پیل کړئ. که په دې برخه کې په نوې بڼه باندې خپل محصولات بازار ته وړاندې کړئ، لا به مو ګټه کړې وي. اوس تاسې د پیسو ګټلو ځینې لارې چارې زده کړې دي، ګټه ترې واخلئ او خپل کاروبار ته پرمختګ ورکړئ. تاسو به وګورئ چې یو وخت به د خپل لوی کاروبار څښتنان یاست. داسې چې هېڅ باور به مو یې نه کاوه.

**۲۰- کوچنی ګټور کاروبار پیل کړئ**

تاسو چې اوس دا کوم شتمن کسان وینئ، دا ټول په یو وار نه دي شتمن شوي او نه هم دا هر څه له خپل پلار څخه په میراث ورته پاتې دي. دوی له همداسې کوچني کارو بار څخه پیل کړی دی او نن یې دا دي تاسو هم ګورئ چې ځانونه یې تر کوم ځای پورې رسولي دي. بازار او مارکېټ ته په کتو کوچنی کاروبار پیل کړئ او ورو ورو پراختیا ورکړئ.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۸۵ |
| € | ۸٦,۷۰ |
| Rp. | ۵۰۱ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۳۵ |
| £ | ۱۰۰,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!


TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

دوشنبه د ۱۳۹۸ د لیندی خلورمه | د ۲۰۱۹ د نومبر ۲۵مه | ٤٦٨مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| ۸ | ۸ | ١٤ | ۵ | ۱۹ | ١٦ |
| -۱ | -۳ | ۱ | -۲ | ۹ | ۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۰۸ | لمر ختل ۰٦:۳٤ | ماسپښین ۱۱:٤۱ | مازیگر ۰۲:۲٦ | ماښام ۰٤:٤۵ | ماخوستن ۰٦:۱۳

## نړۍ



# امریکا: د ایراني چارواکو د ټولنیزو رسنیو اکونټونه دې وتړل شي


۳

## سرچینې: په عراق کې د امنیتي ځواکونو له خوا لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې

امنیتي ځواکونو د عراق په جنوب کې پر اعتراض کوونکو ډزې کړې چې لږ تر لږه پنځه کسان یې وژلي او په لسګونو نور یې ټپیان کړي دي.

د دغه هېواد پولیسو او روغتیایي سرچینو ویلي، لږ تر لږه دوه کسان پرون هغه وخت ووژل شول او تر ۷۰ زیات نور ټپیان شول، چې امنیتي ځواکونو بصرې ته نږدې په ام قصر بندري ښار کې د لاريون کوونکو د خورولو لپاره پر دوی ډزې وکړې.

بلخوا ورمه شپه اعتراض کوونکي د ښار پر دریو پلونو راټول شوي وو، چې امنیتي ځواکونو یې د تیت و



پرک کولو لپاره وژونکې وسلې او اوښکې بهوونکي گاز کارولي چې په دې پېښه کې هم درې کسان وژل شوي دي.

سرچینو ویلي، تر ۵۰ زیات کسان د شخړو پر مهال تر ډېره د مرمیو او د اوښکې بهوونکي گاز د کارونې په نتیجه کې ټپیان شوي دي.

د ملگرو ملتونو او د بشري حقونو د ملاتړو بنسټونو د راپورونو له مخې، د اکتوبر له لومړیو په عراق کې د پیل شویو اعتراضونو پر مهال لږ تر لږه ۳۳۰ کسان وژل شوي دي.

د یادونې ده چې په عراق کې دغه اعتراضونه د اداري فساد، بېکارۍ او کمزورو ټولنیزو خدماتو له کبله پیل شوي دي، چې ډېر ژر پر تاوتریخوالي واوښتل.

## راپورونه: د سوریې په شمال کې د ترکي ځواکونو او کردانو په تازه نښتو کې ۱۷ کسان وژل شوي دي



د فارس خبري اژانس د راپور لـه مخې، د سوریې پـه شمال کـې د ترکـي ځواکونـو او کردانـو تـر منځ په نښـته کـې لـه دواړو لـورو څخه ۱۷ کسـان وژل شـوي او ۲۳ نور ټپیان شـوي دي.

د سـوریې د بـشري حقونـو د څار لـندن مېشـتې ډلـې ویـلي، چـې دغـه نښـتې د سـوریې د شـمال پـه عیـن عیسـی سـیمه کـې رامنـځ تـه شـوې دي.

دا نښـتې داسـې مهال شـوې دي چې څه موده وړاندې د امریکا، روسـیې او ملگرو ملتونو په گډون، د نورو هېوادونو پـه منځگړیتـوب ترکیـې او د سـوریې د ډیموکراټیکـو کرد ځواکونـو چـې د امریکا لـه لـوري یـې ملاتـړ کېـږي، پـه سـوریه کـې پـر اوربند هوکـړه وکـړه.

کلـه چـې د امریکا ولسـمشر ډونالـډ ټرمـپ لـه سـوریې څخـه د خپلـو ځواکونـو د ایسـتلو اعـلان وکـړ، ورسره سـم ترکیې د سـوریې په شـمال کـې د کردانو پـر وړانـدې پراخ عملیات پیـل کـړل چـې دواړو لـورو تـه تـر دې دمـه پکې درنـه مـرگ ژوبلـه اوښـتې ده.

پـه ورتـه وخت کـې د سـوریې حکومت هم پـه ترکیه کـې د دغـه هېـواد د مداخلـې پر وړانـدې توند غبرگون ښـودلی او هغـه یـې د سـوریې پـر ځمکنـۍ بشـپړتیا تېـری بللـی دی.

د دغـه هېـواد د بهرنیـو چـارو وزارت پـه یـوه خبرپاڼـه کـې ویـلي، چـې ترکیـې د ټولـو نړیوالـو اصولـو پـه نقض کولو سره د سـوریې پـر خـاوره یرغـل کـړی او ډېـرو ملکیانـو تـه یـې مـرگ ژوبلـه اړولـې ده.

## منابع: نشست بین الافغانی در چین بار دیگر به تعویق افتاد و ممکن است برگزار نشود



منابع معتبر میگویند که به علت اختلاف بالای برخی موضوعات، نشست بین الافغانی در چین بار دیگر به تعویق افتاده و ممکن است هیچ برگزار نشود.

نمایندۀ خاص چین برای افغانستان، سه ماه قبل در کابل به شمول محمد اشرف غنی رئیس جمهور کشور، با سران حکومتی و سیاسیون افغان، و در قطر با نماینده گان طالبان ملاقات کرد و راه اندازی یک نشست بین الافغانی در کشور چین را پیشنهاد نمود.

پیش از همه، طالبان با نشر یک خبرنامه دعوت اشتراک در این نشست را پذیرفتند و گفتند که یک هیئت طالبان تحت رهبری ملا عبدالغنی برادر، در این نشست اشتراک خواهد کرد.

قرار بود این نشست به ۲۸ سپتمبر سال جاری برگزار شود؛ اما به خواست حکومت افغانستان به تعویق انداخته شد.

اما برخی منابع معتبر میگویند که این نشست، بار دیگر به تعویق انداخته شده و ممکن است بر اساس اختلاف بر اجندا و برخی موضوعات دیگر هیچ برگزار نشود.

یک منبع که نخواست نامش در گزارش ذکر شود، به آژانس خبری پژواک گفته است که تاهنوز حکومت افغانستان برای اشتراک در این نشست، هیئتی را انتخاب نکرده و برخی مشکلات دیگر نیز موجود است.

بر اساس معلومات این منبع، مشکلات امور اداری و عملیاتی این نشست تاهنوز باقی مانده است.


صدیق صدیقی سخنگوی رئیس جمهور، در مورد عدم برگزاری نشست بین الافغانی چین، چیزی نمی گوید؛ اما می افزاید که تاهنوز تاریخ دقیق این نشست مشخص نشده است.

وی گفته است که حکومت افغانستان، از تمام تلاش های صلح که تحت مالکیت و رهبری افغان ها صورت میگیرد حمایت میکند.

وی افزوده است که حکومت در خصوص لیست نشست چین، با گروه و شخصیت های سیاسی مشوره کرده است.

## ژوند

## املوک د زړه او سرطان ناروغۍ له منځه وړي



املوک هغه مېوه ده چې د منې په فصل کې پخېږي. دغه مېوه چې نن سبا په بازار کې ښه ډېره پیدا کېږي، بې شمېره گټې لري. د تغذیې د برخې متخصص مرتضی صفوي د املوکو گټې ته په اشارې وایي: املوک د ویټامین (اې، بي، سي) تر ټولو ښه سرچینه ده چې د زړه او سرطان له ناروغیو مو ژغوري.

نوموړی وایي، املوک په درماني ځانگړنو کې سرو (رومي) بانجانو ته ورته دي، په کې شته انټي اکسیدان یې د دې لامل کېږي، چې د زړه او سرطان ناروغۍ له منځه یوسي. دا چې املوک د ویټامین سي او بټاکاروټن ښه سرچینه بلل کېږي، د بدن دفاعي سیستم پیاوړی کوي او لوړ غذایي ارزښت لري.

املوک په ویټامین (اې، بي، سي) سربېره، کلسیم او فاسفورس هم لري. په املوکو کې شته قندي مواد د هغو کسانو لپاره چې د شکرې پر ناروغۍ اخته دي، کوم زیان نه لري.

په سل گرامه یا یوه املوک کې له ۷۹ نیولې تر ۸۰ کالوري انرژي شته. په یوه املوک کې لږ تر لږه ۱۱ ملي گرامه ویټامین سي شته. دغه راز املوک ۲۷۱۰ واحده تقریباً (۰٫٦٦۷ ملي گرامه) ویټامین (اې) لري، چې د ورځې په اوږدو کې یوازې د یوه دانه املوکو خوړل د بدن د اړتیا وړ نیم ویټامین (اې) پوره کولی شي.

## د ستونزو په اړه نه؛ بلکې پر حللاره یې فکر وکړئ

له دې وروسته هم که په ستونزو کې را گیر شوی او د حل لار نه ورته وینی، د دې پر ځای چې ناهیلي شی او یو ځل بیا په منفي فکرونو کې را بند شی، خپل تېر ته مو پام وکړئ. در په یاد کړئ چې خدای پاک څه ډول له ناروغیو وژغورلی او روغتیا یې درکړه. په دې اړه فکر وکړئ چې ډاکټرانو به درته ویل، تاسې به هېڅکله د اولاد څښتن نه شی، خدای پاک په خپله مهربانۍ اولادونه درکړل. در په یاد کړئ چې څه ډول خدای پاک له هغو ستونزو را بهر کړی، چې تاسې یې هېڅ د حل لار نه لیده.

کله چې تاسې په دې اړه فکر کوی چې خدای پاک وساتلی، پرمختگ مو وکړ، نو ایمان او باور مو قوي کېږي او زړه ته مو رحم لوېږي. د دې پر ځای چې فکر وکړی:

زه به هېڅکله بریا ته ونه رسېږم او له



ستونزو به خلاص نه شم، کولای شی په پوره باور ووایاست: خدای پاک یو ځل له ما سره داسې مرسته کړې ده، ډاډه یم چې بیا بیا به یې را سره وکړي. د ستونزو په اړه فکر مه کوئ، بلکې حللاره ورته ولټوئ. خدای پاک (ج) تاسې له یوې بریا څخه بلې ته رسوي.